## د تصوف ځیني اصطلاحاتو شننه

**لومړۍ برخه :** **څېړونکی: پوهنوال الکوزی تایب**

### لنډیز :

دا چې ټول علوم خپل ځان ته ځانګړي قواعد ، اصول او اصطلاحات لري، همدا ډول د تصوف علم هم یو شمېر اصطلاحات لري چې په هغو باندې پوهېدنه د دې علم په اړه د لوستونکي پوهه زیاتوي او هم ئې په اساني سره ژورو ته ځان رسولای شي.

تصوف چې تر اسلام مخکي ئې هم ریښې په بېلابېلو ادیانو کې موجودي وې او د اسلام د راتګ سره ئې اسلامي حلقو او هم نورو برخو ته لاره پیدا کړه، لا ئې رونق وموند. په تصوف کې د اصطلاحاتو معنی او مفهوم ډېر کله د عادي معنی او مفهوم سره توپیر لري او هم ئې د استعمال ځای بیل دی.

### سریزه :

پښتو ادب او تصوف پخپل منځ کې په پراخه اندازه یو دبل سره اړیکي او ارتباطات لري، ځکه چې د پښتو ادب دهر اړخیز غو رځنګ او منځ ته راتګ په پیلېدو سره او عرفانیت هم یو وخت پښتو تصوفیت یو وخت او یو شان تېعونه وهلي او را منځ ته شوی البته دیادوني وړده، چې پښتو ادب او تصوف که په یوه وخت کې منځ ته نه وي راغلي، شاید لږ وروسته او مخته یې تسلط پیدا کړی وي، خو په هرصورت، لکه چې یادونه موو کړه پښتو ادب او تصوف پخپل منځ کې نږدې ارتباط لري نو ددې په خاطر د پښتو ادب تر څنګ په تصوف او عرفان کې هم معلومات زیات اړین دي.

د تصوفي اصطلاحاتو شمېر ډېر زیات دی په دې لیکنه کې مې هڅه کړې ده چې د هغو تصوفي اصطلاحاتو په هکله معلومات وړاندې کړم چې په تصوفي آثارو کې ډېر کارول کیږي یا په بله معنی چې موږ ډېر ورسره ډېر مخامخ کېږو او یا ئې صوفیان ډېر کاروي.

هیله ده چې ستاسو د پاملرنې وړ وګرځي.

### د تصوف اصطلاحات:

۱ـ ریاضت او مجاهدت: دا هغه دوه کلمې دي چې د دنیایي غوښتنو نفس او هوی په وړاندې د ټینګار او د نفس له سرکشۍ څخه مخنیوي په معنی راغلي دی. په قرآنکریم کې داسې آیاتونه شته چې بنده دغه مقاومت او د سرکشۍ مخنیوي ته هڅوي لکه چې فرمایي: ژباړه: نو هغه څوک چې طغیان او سرکشي کوی او د دنیا ژوند یې غوره وګاڼه نو دوزخ یې ځای دی خو هغه څوک چې د پروردګار په وړاندې د درېدلو څخه ووېرېده او خپل نفس یې له هوای څخه وژغوره نو جنت به یې ځای وي.

ریاضت د تصوف په اصطلاح کې په ځانګړي توګه له نفس سره د ټینګار او د نفس د تزکیې او روزنې په معنی دی خو مجاهدت له هغو شیدو څخه د نفس بیلول دي

چې نفس ورسره عادت دی، ښکاره خبره ده که نفس خپل فطرت نه پرېښودل شي خپل خاوند دوزخ ته لیږي او د ناخوالو په کنده کې یې غورځوي چې بیا به خلاصون ورڅخه نه وي.

زمونږ موخه او لاره د نفس روزنه او تزکیه ده او په ملهمه (مطمئنه) نفس باندې د هغه اړول دي، یا په مرضیه نفس باندې یې روزنه ده. دا هغه حکیمانه روزنه ده، چې پرته له ستومانۍ ده ،او له خواهیشاتو او د نیایي امیالو نفس جلا کول دي.

لکه هماغسې چې ماشوم ورو ورو د مور له شیدو څخه جلا کېږي همدا شان په هر حرام عمل او هر مزموم صفت او بدۍ کې د نفس د سرکشۍ مهارول دي.

**پاتې لري په راتلونکي ګڼه کې**

## دهیواد پروړاندې ملي رسالت باید څنګه ترسره کړو؟

په هیواد کې دولسي او ولسوالیو دشوراګانو ټاکنو لپاره دنوم لیکنې بهیر پیل شوي ؤ، چې پدې سره دهیواد هر وګړی مکلف ؤ، چې نوم لیکنه وکړي او په راتلوونکي ټاکنو کې برخه واخلي، ځکه دا به دهر افغان ملي رسالت وي، څو دخپل هیوادنۍ مینې سره ټولو نړیوالو ته دا په اثبات ورسوي، چې ټول افغان ولس په خپلو کې سره یوالی او وحدت لري.

سمه ده، چې ډیري وګړي په دغه ملي پروسه چې نوم لیکنه ؤ، ګډون نه وي کړي، ځکه دادې لامل په اساس کیدای شي، چې دوی وایي او دغه خبرې دټولو ولسونو په خولو کې تاواو راتاوېږي، چې ډیري وکیلان په فساد، په بډو اخیستو، غلاو، په پروژو کې پر ونډو، دحکومت په څوکیو دګمارنو خپلوي پاللو او آن دولسمشر او نظام په ضد راپاڅیدل دا هغه څه دي، چې د ولسونو زړونه ساړه کړیدي.

دغو ټکو ته اوس ولس باید له پوره غور اودقت نه کار واخلي، هغه چاته رایه وکاروي، چې زړونه یې پر ولسونو وخوږیږي، نه دا چې په ملي ګټو او دولسونو په رایه لوبې وکړي.

اوس وخت رارسیدلې ده، چې ولس په پوره ویښتوب او هوښیارۍ سره هغه چاته رایه وکاروي، چې کاندید ورته وړ شخص وي، ځکه دابه د دوی ایماني او وجداني مسؤلیت هم وي، چې دوکیلانو په ټاکنه کې غور وکړي، څو په راتلونکي کې دوی دملامتیا او پښیمانۍ افسوس ونکړي.

وکیلان هم هغه برنامې او تګلارې ولس سره شریکې کړي، چې د وکالت په دوران کې ولس ته سرټیټي ونه اوسي او هغه څه خدمتونه ولس ته ترسره کړي، چې دکمپاینونو په لړ کې ولس سره خپل اهداف شریک کړي وي.

سمه ده، چې په تیرو دو دورو کې ځیني وکیلان به له خپلو وکالته ناوړه ګټه پورته کړي وي، لکه چې یادونه یې پورته وشوه. ولې دا دهر وګړي فردي غوښتنه ده، چې خپله رایه څنګه او چاته وکاروي، خو یادونه یې اړینه ده، چې د ولسوالیو شوراګانو او ولسي جرګې د وکیلانو په غوراوي کې هر افغان په پوره ځیرکتیا له هغو لارو چارو ګټه پورته کړي، چې وکیل دولس اوښکي وکولای شي پاکې کړي، نه دا چې دولسونو په رایو ملنډې او شخصي ګټه ترېنه واخلي.

راځئ هیوادوالو دخپل ملي رسالت په اداینه کې له پوهې او فکره کار واخلو، ترڅو زمونږ دهیوادوالو په چوپړ کې هغه کسان وواسي، چې د هیواد ملي ګټو ته ژمن او ولس ته پر وخت خدمتونه وړاندې کړي.

**لیکنه : ستانکزی**

> څرنګه چې انسان دمرګ له پاره پیداشوی دی، نو دحق په لاره کې په توره سره مرګ ترټولو ښه او ارزښتناک دی. **حضرت حسین (ع)**

## ځوانه ورځ دې مبارک شه / دځوانانو دنړیوالې ورځې په ویاړ؛

را روانه میاشت د زمري ۲۱ مه چې د اګست دمیاشتې له ۱۲ مې نیټې سره سمون خوري ؛ دځوانانو نړیواله ورځ ده.

دغه ورځ په ټوله نړۍ کې په بیلابیلو دودیزو جشنو سره لمانځل کیږي، خو افغانستان کې دځو کلو راپه دېخوا دځوانانو نړیواله ورځ لمانځل یې په ځینو ولایتونو کې پیکه او دنمایشي غونډو په ترڅ کې ترسره کیږي، ولې ډیري ځوانان هم له یادې ورځې څخه ناخبره دي.

څنګه چې ویل کیږي او دا یو ښکارنده حقیقت دی، چې ځوانان دهیواد په جوړولو او پرمختګ کې رغنده رول لوبولای شي او په لنډه توګه ویلای شو، چې ځوانان دیو هیواد دملا تیر حیثیت لري، باید د ټولنې ولسونه او حکومت دې ورته ډیره پاملرنه وکړي.

که په کومه ټولنه کې ځوان شتون ونلري، هغه ټولنه به ورسته پاتې وي، خو دا چې ځوانان څومره دهیواد پروړاندې مسؤلیت منونکي دي، باید خپل مسؤلیت او اداینه په واقعي توګه سرته ورسوي، ترڅو ټولنه د بدبختیو له ننګونو څخه خلاصی پیدا کړي.

ځوانان دې په ټولنه کې دپوهې، صبر، حوصلې او دنیکو اخلاقو بیلګه واوسئ، دا دځوانانو دپرمختګ هغه ځانګړني دي، چې موجودیت یې اړین بلل کیږي، ځکه پوه، حوصله ناکه او دنیکو اخلاقو ځوانان د هرڅه درک کولای شي او هم دخلکو نظریاتو، وړاندیزونو او خبرو ته په پوره درناوی غوږ نیسي.

که چیرته داسې یو ځوان چې پورتني اوصاف پکې موجود نه وي، نو هیڅکله به ټولنه او ځوان پرمخ ولاړ نه شي او دواړه لورې چې ځوان او ولس دي، دمناقشو او مناظرو دترسره کولو هدف به ترلاسه نکړي.

ځوانان چې دخپل کور( وطن) په وړاندې دومره ستر مسؤلیت لري، نو هغه ځوانان چې په اوسني وخت کې نیشه یي توکو او یا نورو عملونو ته مخه کړې او ځیني نور داسې ځوانان لرو، چې دوطنپالنې حس یې مړ او په دې هم نه پوهیږي، چې موږ څوک یوو او څه باید وکړو، دوی دې راویښ او دځوان احساس دې پکې ژوندی کړي.

دځوانانو نړیواله ورځ یوازې په دې بسنه ونشي، چې یاده ورځ په غونډو او محفلونو سره ترسره کیږي، چې ګډونوال یو څو کرښې خبرې دځوان په اړه وکړي، بلکې لازمه ګڼو چې هره ورځ دځوانانو یادونه او دهغوی پر مسؤلیتونو، وجایبو او خدمتونو خبرې وشي، ترڅو دځوانانو ستونزې برسیره او حقیقوتونه په ډاګه او دحل لارې چارې یې دهمدغو ځوانانو په ژبه اظهار کیدلای شي.

ځوانان باید دمسؤلینو لخوا په مکافاتو ونازول شي او په ټولنه کې هغه دودونه چې مشران دې په هر کار کې مخکښ وي، دغه فرهنګ ته دپای ټکی کیښودل او ځوانانو ته دې په هرکار کې ونډه او مسؤلیتونه وروسپاري.

نو ځوانانو ته هم لازګڼو، چې په ټولنه کې ولسونه له دوی څخه کومې غوښتنې لري، باید ځوانان دې خپلې متې راونغاړي او دهیوادوالو په منځ کې مخکښي غوره کړي.

ځوانه ورځ دې مبارک شه ! دا شعار ټولو ځوانانو لپاره دی، چې هرځوان ځان ته متوجې کوي، چې رښتیا هم ځواني څنګه او په کوم ډول ورڅخه ګټه واخیستل شي، ددې شعار آوریدل هغه ځوانان چې دبې پروایي په خوب بیده دي راپاڅوي، ددې خوبونو بیلګې، له هیواده نورو وطنونو ته په غیرې قانوني تلل، مخدره توکو باندې روږدي کیدل، دهیواد په دننه کې ناوړه کاروته لاس ورته کول او نور عملونه دي؛ خو چې ولس، دولت او پوه او با استعداده ځوانان په ګډه توګه دغو کړنو ته کار او ددغو ځوانانو مخنیوی وکړي، نو دوی به هم دهیواد دودانولو مسؤلیتونو ته پام ورواړوي.

ځوانانو لپاره یوه ورځ یادونه یې ځانګړې شویده، خو چې ځوانانو ته دخیراو سوکالۍ پیغام له ځانه پریږدي او ځوانانو ته ددې ورځې په درناوي باید په ټولنه او حکومتي ادارو کې زیات ونډه ورکړل شي.

راځئ چې یاده ورځ په نمایشي غونډو ونه لمانځو، بلکې عملي بڼه ورکړو، داهم لست کړو، چې په هیواد کې څومره کادري او مسلکي ځوانان لرو. خو دولت ورته اوس هم پام ندی کړې، چې دوی خپل وړتیاوې دولسونو دخدمت کولو قرباني واوسي.

**لیکنه : شیرمحمدامیني ستانکزی**

**خبرتیا!** دلوګر ولایت دځوانانو چارو لوی مدیریت په پام کې لري، چې (د کرکټ اتلان مو د سولې سفیران دی) ترسرلیک لاندې ټورنمینټ په لاره واچوي. دغه ټورنمینټ په څوارلسو آورونو مشتمل دی. د کرکټ ټولو سرټیمونو څخه هیله کیږي، چې دیاد ټورنمنټ دنوم لیکنې لپاره داطلاعاتو او فرهنګ ریاست ته تشریف راوړي او یا دې په لاندې شمیرو اړیکه ونیسي. ۰۷۸۵۸۸۵۵۸۴ / ۰۷۷۸۲۲۵۲۱۳

**د ټورنمینټ مسؤل: منیر احمد (عزیزي)**

د کرکټ لوبه دځوانانو دپرمختګ په ملي او نړیوالو برخو کې یوه ستره بیلګه !

## تیم کلنگار قهرمان رقابت های فوتسال درلوگر شد

رقابت های فوتسال که برای مدت یک هفته درمرکزولایت لوگرراه اندازی گردیده بود ، با قهرمانی تیم کلنگار پایان یافت.

محمد شاهپورعرب سخنگوی ریاست معارف لوگر به آژانس باختر گفت: دردور نهایی رقابت های فوتسال که درجمنازیم لودین باحضورداشت ده ها تن تماشاچیان برگزارشده بود ،تیم های کلنگارو پادخواب روغنی به مصاف هم رفتند که نتیجه به نفع تیم کلنگار رقم خورد و این تیم درمکان نخست قرارگرفت وتیم پادخواب روغنی درجای گاه دوم قرارگرفت.

آقای عرب می گوید که دراین مسابقات نو تیم ازمکاتب مرکزوولسوالی های ولایت لوگراشتراک ورزیده بود که چهار روزدوام نمود ،گفته میشود که این رقابت ها ازطرف مدیریت تربیت بدنی ریاست معارف لوگر راه اندازی گردید.

به گفته سخنگوی ریاست معارف لوگرقرار است به زودی رقابت های والیبال وتکواندو نیز غرض رشد ورزش میان شاگردان مکاتب مرکز آغازگردد.

درپایان پروگرام به تیم های اول ودوم رقابت های فوتسال جوایزوتحایف نیزتوزیع گردید. **محمد موسی (عدیل)**

## باشندگان لوگربرای ساخت یک مکتب ومدرسه دینی زمین اهداء نمودند

سه تن باشنده گان ولسوالی برکی برک وخروار برای ساخت تعمیریک باب مدرسه دینی ویک باب مکتب بیش از یک ونیم جریب زمین شخصی شانرا بطور رایگان اهدا نمودند.

شاپور عرب سخنگوی ریاست معارف ولایت لوگر به آژانس باخترگفت:سه تن بزرگان قومی ولسوالی های برکی برک وخروار این ولایت بیش از یک ونیم جریب زمین شخصی شانرا به برنامه حمایت از معارف برای ساخت تعمیر مدرسی دینی غوث الثقلین ولیسه علی جان خیل به شکل رایگان وقف نمودند. آقای عرب می افزاید که با دریافت این زمین، برای مدرسی دینی در ولسوالی برکی برک وبرای مکتب در ولسوالی خروار تعمیر ساخته خواهد شد.

به گفته منبع ولایت لوگر به سطح کشور نخستین ولایتی است که باشنده گان آن به شکل رایگان بیش از 35جریب زمین شخصی شانرا در مرکز وولسوالی های شش گانه این ولایت برای ساخت تعمیر مکاتب ومدارس به برنامه حمایت از معارف اهدا نموده اند.

قابل یاد آوری است که درولایت لوگربیش ازپنجاه مکاتب تعمیرندارند ودانش آموزان درخانه های کرایی مصروف فراگیری علم ودانش میباشند.

**محمد موسی (عدیل)**

## د نړۍ د پوهانو خوږې او غوره ویناوې

۱. عقل من هغه څوک دی، چې نور خلک بې وقوف او بې عقل نه ګڼي.
۲. هر هغه سړی پهلوان او طاقتور دی، چې هغه خپله غصه په کنټرول کې وساتي.
۳. د دولتمن سړي پر زړه او دماغ هروخت توره تیاره وي او دا تور تم دهغه له دماغ څخه علم لرې کولای شي.
۴. ادب بهترین کمال دی او خیرات افضل عبادت دی.
۵. دانسان حسن د هغه په ژبه کې دی.
۶. خاموشي دغصې بهترین علاج دی.
۷. څوک چې زیاتې ټوکې کوي حقیر ګڼل کیږي.
۸. په ګناهونو باندې پښیماني کول ګناهونه ختموي او په نیکیو باندې غرور کول نیکي بربادوي.
۹. غصه په حماقت باندې شروع کیږي او په ندامت باندې ختمیږي.
۱۰. نیک عمل هغه دی، چې دخلکو له توقع څخه بې نیازه وکړل شي.
۱۱. نیکي یوه داسې شمعه ده، چې د دوست او دښمن دواړو کورونه روښانه کوي.
۱۲. د بې کاره خلکو په زړه کې شیطان ناست دی.

**سرچینه : دنړۍ له جال څخه**